هغه ته ورشه او ورته ووايه: ته له دوزخيانو څخه نه، بلکې له جنتيانو څخه يې

له أنس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم د ثابت بن قيس د نادرک په اړه پوښتنه وکړه، نو يو سړي وويل: اې د الله جل جلاله رسوله، زه به يې په اړه معلومات وکړم، نو ورغی او پداسې حال کې يې وموند چې په کور کې ناست و، سر يې ټيټ نيولی و، نو ورته يې وويل: څه حال دې دی؟ هغه وويل: شر دی، خپل غږ يې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم له غږ څخه پورته کړی، نو عمل يې برباد شوی او دا چې هغه د اور له خاوندانو څخه دی، نو سړی راغی او - رسول الله صلى الله عليه وسلم - ته يې خبر ورکړ چې داسې او داسې يې وويل، نو بيا ځلې د يو لوی زيري سره وروګرځېده ويې ويل: «هغه ته ورشه او ورته ووايه: ته له دوزخيانو څخه نه، بلکې له جنتيانو څخه يې».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

ثابت بن قيس له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه نادرکه شو نو په اړه يې پوښتنه وکړه، يو سړي وويل: زه به يې درته خبر او د غيبېدو لامل پيدا کړم، نو هغه ته ورغی پداسې حال کې يې وموند چې خفه و سر يې ښکته کړی و او په کور کې و، نو پوښتنه يې ترې وکړه چې: څه حال دې دی؟ نو ثابت د هغه شر په اړه خبر ورکړ چې دی پکې و؛ ځکه چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم له غږ څخه يې غږ پورته کاوه، پداسې حال کې چې الله جل جلاله هغه څوک په عمل بربادولو سره ګواښلی چې دا کار کوي، او دا چې دی له دوزخيانو څخه دی! نو سړی رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وروګرځېده او پدې اړه يې خبر ورکړ، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته امر وکړ چې ببرته ثابت ته وروګرځي او زيری ورکړي چې هغه له دوزخيانو څخه نه بلکې له جنتيانو څخه دی، ځکه چې د هغه غږ پيدايشي لوړ و، او ځکه چې هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم خطبه ويونکی و او همدا رنګه د انصارو خطيب و.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65073